په پای کې ابن قيم رحمه الله د دې آيت: {إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُمْ بِهِ وَذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ * الْحَامِدُونَ السَّائِحُونَ...} الآية [التوبة: ١١١-١١٢]، په تفسير کې وايي: « په آيت کې د ذکر شوي سياحت په تفسير کې چا روژه، چا د علم د لټولو سفر، چا جهاد او چا هميشه اطاعت او نيکي ذکر کړي دي، خو تحقيقي خبره دا ده چې؛ د زړه سياحت د الله تعالى په ذکر، د هغه په محبت، هغه ته په راګرځيدلو او د هغه ملاقات ته په شوق کې دی او پدې سياحت کې دغه ټول صفات راتلی شي، ځکه خو الله تعالى د هغو ښځو په صفت کې فرمايي- کومې چې به الله تعالى خپل رسول ته د خپلو ښځو د طلاقيدو په صورت کې ورکولې- چې دغه ښځې به سائحات وي، د هغوی دغه سياحت جهاد نه و، نه يې د علم په طلب کې سياحت کولو، نه يې د هميشه روژو په نيولو سره، بلکې د هغوی سياحت د زړونو سياحت و، چې زړونه يې د الله تعالى د محبت، ويرې، هغه ته په راګرځيدو او ذکر ډک وي، ته وګوره څنګه الله تعالى توبه او عبادت سره يوځای کړي دي؛ ځکه توبه د الله تعالى نا خوښه کار پريښودلو او عبادت د الله تعالى خوښ کار کولو ته وايي، حمد او سياحت يې يو ځای کړی، ځکه حمد؛ د کمال په صفتونو د الله تعالى ثناء او ژبه د الله تعالى په غوره ذکر چلولو ته وايي او سياحت د الله تعالى په محبت، ذکر او اجلال کې ګرځيدلو ته وايي، همدا ډول الله تعالى د دغو ښځو په صفت کې عبادت او سياحت هم يو ځای ذکر کړی، ځکه دغه يو د بدن عبادت دی او بل د زړه عبادت دی»[حادي الأرواح]

هذا، والله تعالى أعلم، وصلى الله وسلم على الرسول النبي الصادق الأمين، وعلى أزواجه وذريته الطيبين الطاهرين.

د کامیابۍ لارې

شيخ ابو حمزه المهاجر تقبله الله

دریمه برخه



د کامیابۍ پنځمه لاره: تیارۍ کول

الله تعالی فرمايي : ﴿وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ﴾ [الأنفال ٦٠] ژباړه : او تاسو د دوی لپاره تیارۍ وکړئ څومره چې ستاسو په توان پوره وي، د أضواء البيان والا وايي: «دغه یو کلک امر دی چې د توان سره سم هر څه تیار کړئ اګر که په ترقۍ انتهاء ته رسیدلې وې، نو دا په دنیاوي کارونو کې د پرمختګ او ترقۍ سره د چلیدلو په خاطر د په خپل قوت تیارولو باندې یو کلک امر دی».

او دا خبره ښکاره ده چې جهاد نن ورځ په هر مسلمان فرض عین دی او هر هغه وسیله چې واجب له هغه پرته نه پوره کیږي هغه هم واجب وي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلې دي: (ارموا بني إسماعيل فإنّ أباكم كان راميا) [صحيح البخاري]، ژباړه: ای د اسماعیل بچو ویشتل کوئ یقینا ستاسو پلار هم ویشتونکی و. بل ځای فرمايي: (ألا إنّ القوّة الرّمي) [صحيح مسلم]، ژباړه: خبردار طاقت په ویشتلو کې دی.

صنعاني د دغه تیر حدیث په هکله ویلي دي: «د یاد حدیث څخه دا فائده مونږ ته ښکاره شوه چې په غشو باندې ویشتل کول طاقت دی، ځکه چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې د کار ساز او سامان و، خو پدې زمانه کې بیا مشرکین په ټوپکونو ویشتل پکار دي» [سبل السلام].

خلاصه دا شوه چې جهاد فرض وي نو پر هغه د صلیبیانو او مرتدینو خلاف معرکې ته تیارۍ کول هم فرض او واجب دي.

چې مونږ له دغو واجباتو څخه په لاندې ډول یو څه ذکر کوو:

لومړی: کټ مټ هغه څه چې امام ابو جعفر طبري رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې بیان کړي: الله تعالی فرمايي: ﴿مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ﴾، طبري وايي: «د جنګي وسایلو نه هغه څه تیار کړئ چې ستاسو په توان کې وي؛ کوم چې د کفارو پر خلاف ستاسو قوت وي» [جامع البيان]. نو د وسلو جوړول تر ټولو لویه تیاري ده چې جهاد پرې پیاوړې کیږي او دا هغه څه دي چې نن سبا ورته د جنګ وسایلو صنعت ویل کیږي او دغه صنعت الله تعالی د خپل کتاب په ډیرو ځایونو کې بیان کړې ده او په بعضې ځایونو کې یې ډیر په جوړوالی بیان کړی دی، الله تعالی فرمايي: ﴿وَعَلَّمْنَاهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّن بَأْسِكُمْ فَهَلْ أَنتُمْ شَاكِرُونَ﴾ [الأنبياء ٨٠]، ژباړه: او مونږ هغه ته ستاسو د ګټې لپاره د زغرو جوړول ښودلي وو تر څو پرې د خپل جنګ پر مهال ځان وژغوري، نو آیا تاسو شکر ایستونکي یاست؟.

امام طبري رحمه الله وايي: داود علیه السلام ته (لبوس) جوړول ښودل شوي وو، او عرب ټولو وسلو ته لبوس وايي، لکه زغره، توره، نیزه او داسې نور. او ابن کثیر رحمه الله وايي: الله ورته د زغرو جوړول ښودلي وو.

الله تعالی د زغرو په صفت کې فرمايي: ﴿أَنِ اعْمَلْ سَابِغَاتٍ وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ﴾ [سبأ ١١]، ژباړه : له دې لارښونې سره چې زغرې جوړوه او د هغو کړۍ او میخونه په سمه اندازه ورکړه، ﴿وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ﴾ شنقیطي په اضواء البیان کې وايي:»کله چې زغري جوړوې نو کړۍ او میخونه یې په سمه اندازه لګوه».

ابن کثیر رحمه الله د قتادة رحمه الله نه روایت کوي: «پخوا به زغرې د وسپنو تختې وې، کله چې داود علیه السلام راغی نو د زنځیري کړیو په شکل یې جوړې کړې».

نو د زغرو د جوړولو په صنعت د الله تعالی دا پاملرنه وشوه چې د هغې د قیق تفاصیل یې ذکر کړل او پدې سره یې په خپلو بندګانو یې دغه احسان وکړ؟

خو ډیره د خواشینۍ خبره ده چې نن سبا زمونږ ډیر مجاهدین د دښمن سره په جګړو کې زغرو ته هیڅ اهمیت نه ورکوي حالانکې په زغره کې ډیري فائدې دي، چې ترټولو مهم یې د دښمن د مرمیو او بمونو د پرچو څخه د مجاهد د قیمتي ځان ساتل دي.

دویم: مجاهد لدې خوندي ساتي چې د بدن په مرګوني ځای ولګي او جهاد ترې پاتې شي یا داسې سخت ټپي شي چې د جنګ په ساحه کې پاتې

شي او د دښمن سره د بندي کیدو ډیره خطره یې موجوده وي.

دریم : د دې په توسط سره یو مجاهد او بیا په ځانګړې توګه د یرغلونو او استشهادي بریدونو شازلمي دښمن ته ډیر نږدې ورتللې شي.

او تر ټولو وروستنی خبره دا ده چې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ډیر زرور نه یو؛ ځکه هغه زغره او جنګي خولۍ لرله، لکه څرنګه چې ور سره توره هم وه، په صحیح البخاري کې د عائشې رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو او زغره یې د یو یهودي سره د دیرشو صاعونو وربشو په بدله کې ګانه وه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دا خبره ثابته ده چې د أحد په ورځ د دوه زغرو تر مینځ را ښکاره شو، یا یې دوه زغرې اغوستې وې.[مسند احمد او سنن ابو داود]

په بخاري او مسلم کې د انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې د فتحې په ورځ راښکاره شو او پر سر یې مغفر و، مغفر د زغرې یو ډول دې چې صرف پر سر اغوستل کیږي، چې نن سبا ورته جنګي خولۍ ویل کیږي.

همدا ډول الله تعالی مونږ ته د اوسپني معدنی ټوټو په اړه ښودنه کړې چې نن سبا د وسلو په جوړلو کې لوی کردار ادا کوي، الله تعالی د ذوالقرنین په قیصه کې فرمایي: ﴿آتُونِي زُبَرَ الْحَدِيدِ حَتَّىٰ إِذَا سَاوَىٰ بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ قَالَ انفُخُوا حَتَّىٰ إِذَا جَعَلَهُ نَارًا قَالَ آتُونِي أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا﴾ [الکهف ۹۶]، ژباړه: ماته اوسپنیزې تختې راوړئ، تر دې چې کله یې د دواړو غرونو تر مینځ کنډو ډک کړ، نو خلکو ته یې وویل: اوس هغه ویلي شوي تامبه (میس) راوړئ چې پدې یې وځځوم.

او دا خبره اوس په تحقیق کې ثابته شوې چې کله یوه اندازه تامبه (میس) د وسپنې سره ګډ کړی شي نو د وسپنې سختي او مقاومت ورسره نور هم زیاتیږي.

او دغه ډول الله نوح علیه السلام ته د کښتۍ جوړول ښودلي وو، فرمایي: ﴿وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا﴾ [هود ۳۷]، ژباړه: او زمونږ تر څارنې لاندې او زمونږ له ښوونې سره سم د یوې کښتۍ په جوړولو لاس پوري کړه.

طبري د ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کوي: چې نوح علیه السلام ته د کښتۍ جوړول نه و زده خو الله تعالی ورته وحي وکړه چې داسې یې جوړه کړه لکه د مارغه سینه.

په همدې توګه نبي صلی الله علیه وسلم د خپل امت د هغو اتلو غازیانو صفت کړی چې په کښتیو کې به جنګ کوي لکه چې د بخاري او مسلم په روایت سره د ام حرام رضي الله عنها په حدیث کې راغلي دي، نو آیا داسې څوک شته چې دغه کار ته متې را بډ وهي؟

الله تعالی فرمایي: ﴿فَأَتَى اللَّهُ بُنْيَانَهُم مِّنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ﴾ [النحل ۲٦]، ژباړه : الله تعالی د دوی د دسیسو کلا له بیخه ونړوله، او د هغې چت پر هغوی له پاسه راوغورځیده.

او څوک چې د چاودیدونکو موادو پوهه لري هغه پدې پوهیږي چې دغه آیت په یقیني توګه د متفجراتو بنیاد دی.

او دا خبره کافي ده چې د الله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم د هیڅ یو صنعت دومره ستاینه او ملاتړ ندی کړی لکه څومره یې چې د وسلو د صنت په حق کې کړی دی، نو فرمایي:(یدخل بالسّهم الواحد ثلاثة نفرٍ الجنّة؛ صانِعه المحتسب في صَنعته الخير، والرّامي به ومنبله) [رواه أصحاب السنن الأربعة]، ژباړه: په یوه غشي په درې کسان جنت ته ځي، جوړوونکی، پدې جوړولو د خیر اراده لرونکی او ویشتونکی، نو د هغه چا به څومره اجر وي چې یو توغندی جوړ کړي، یا الوتکه جوړه کړي یا یوه نوې چاودیدونکې ماده کشف کړي.

هر چې نشریاتي او د رسنیزه چارو تیاری دی:

نو د مجاهدینو جګړې د دښمن سره په دوه سنګرونو کې روانې دي، یو عسکري محور او سنګر دی چې مونږ وړاندي بیان کړ، دویم طرف د هغه شیطاني نشراتو مخه نیول دي چې د امت شکل یې بدل کړې، عقیده او بنسټ یې ور خراب کړې او د نفس او طبعیت ماتي یې را مخکي کړې، یقینا د نشراتو توغندي ډیر سخت او چاودیدونکي دي او دا د الوتکو د توغندو د لمبو نه امت او د امت سرو ته ډیر سخت خطر دی، نو له دغې وجې مجاهدینو ته پکار دي چې څرنګه یې په عسکري میدان کي د دښمن مخه نیولې دغسې باید د دویم میدان مخه هم ونیسي چې هغه د رسنیو میدان دې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «جهاد وکړئ په خپلو ژبو باندي». [مسند احمد] او بل ځای کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: « یقینا مجاهد په لاس او په ژبه جهاد کوي، قسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په لاس کې دس دا د ژبې جهاد داسې دی لکه چې تاسو یې په غشو وولئ» [مسند احمد]، همدا راز رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله زمانه کې د رسنیو هر ډول پروژې روانې ساتلې وې کوم چې به د دښمن زړه ته ډیر درد ورکوو او ورباندي به ډیر سخت و، چې هغه ته شعر وایې، امام ترمذي او نسائي د انس بن مالک نه روایت کړې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په عمرة القضاء کې مکې ته ننوتلو او عبدالله بن رواحة رضي الله عنه یې مخ ته روان و او شعر یې ویل :

خلّوا بنو الکفار عن سبیله * الیوم نضربکم علی تنزیله

ضرباً یزیل الهام عن مقیله * ویذهل الخلیل عن خلیله

ای د کافرانو بچو له مخه یې اخوا شئ* د ده په وحې به مو نن ورځ وهو * داسې وهل چې کوپړۍ والوځوي * او انډیوال د انډیوال څخه بیزاره کړي

نو پدغه وخت کې ورته عمر رضي الله عنه وویل: « ای د رواحه زویه ! د الله تعالی په حرم کې او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم مخته ته شعرونه وایې؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «ای عمره ! دغه شعرونه پر دې کافرانو د غشو د ګذار څخه هم سخت دي».

او لکه څرنګه چې د خالد بن الولید رضي الله عنه په اسلام قبلولو خوښ شوې و چې هغه یو لوی جنګ سالار وو ، دغسې د شاعرانو په لوی او مشر شاعر باندې هم خوښ شوې و، په مسند احمد کې روایت دی: چې کله د انصارو یوه لویه ډله په عقبه کې د بیعت لپاره راغله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم عباس ته وویل چې دغه دوه تنه پیژنې؟ هغه ورته وویل چې آو دا یو د خپل قوم مشر براء بن معرور دی او دا بل کعب بن مالک دی. کعب رضي الله عنه وایي: زما به د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره کله هم هیره نشي چې ویې ویل: هغه شاعر ؟ عباس ورته wوایل چې آو[رواه احمد].

او د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دا هم نقل دي چې هغه به خپل شاعران پوره او په سمه توګه تیارول؛ حسان بن ثابت رضي الله عنه ته به یې فرمایل:« ابو بکر ته ورشه چې د دې قوم بدۍ درته بیان کړي، ځکه په نسبونو پوه دی» [بیهقي باب الأنساب].

په صحیح البخاري کې د عائشې رضي الله عنها روایت دی چې: حسان بن ثابت رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د مشرکانو د بدیو بیانولو اجازه وغوښتله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: « زما د نسب به څه چل وشي؟» هغه ورته وویل: زه به تا د دوی نه داسې را وباسم لکه څرنګه چې د اوړو نه ویښته راویستلی شي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به ښه شعرونو ډیر خوند ورکوو، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: « ډیره ریښتونې خبره چې شاعر کړې ده؛ هغه د لبید شاعر خبره ده چې ویلي یې دي: خبردار د الله تعالی نه پرته هر څه باطل دي، او امیة بن ابي السلط نږدې و چې مسلمان شي». [صحیح بخاري].

همدا ډول رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې لپاره یو خاص خطیب نیولی و چې د اسلام او مسلمانانو څخه دفاع وکړي، ثابت بن قیس بن شماس چې د جنت زیری هم ورکړل شوی و، کله چې بني تمیم راغلل، خپل شاعر او خطیب دواړه یې راوستل، نو رسول الله ثابت بن قیس ته وفرمایل:



اعلامي سنګر د جهاد بنسټيزه برخه ده

«ورپاځيږه او جواب ورکړه» نو هغه ورته جواب ورکړ، پدغه وخت کې اقرع بن حابس ودرید او ويې ويل: قسم په الله محمد ته کارونه په خپله برابريږي، زه نه پوهيږم چې دا څه چل دی، زمونږ خطيب خبرې وکړې خو د دوی خطيب تر هغه ښه خبرې کونکی دی او زمونږ شاعر خبرې وکړې خو د دوی شاعر ډير تکړه شاعر او ښه خبرې کونکی دی، بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم ته را نږدې شو او ورته يې وويل: زه دا ګواهي کوم چې د الله څخه پرته بل حقدار د عبادت نشته او ته د هغه رالیږل شوې رسول يې.[معرفة الصحابه د ابو نعيم]

مونږ کولی شو چې د اسلامي رسنيو يو شمير مهم هدفونه او مقصدونه په يو څو مهمو نقطو کې تاسو ته خلاصه کړو :

١. پدې سره د مسلمانانو د ناموسونو او عقيدو ساتل کيږي، الله تعالی د شاعرانو څخه بعضې ځانګړي کوي: ﴿إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانتَصَرُوا مِن بَعْدِ مَا ظُلِمُوا﴾ ژباړه : مګر هغه کسان چې مومنان دي، نيک عملونه کوي، الله ډير يادوي او مرسته يې کړې وروسته له هغې چې ظلم ورسره شوې.

ابن عباس رضي الله عنه د آيت په تفسير کې وايي: يعني د هغو کافرانو رد کوي چې د مسلمانانو بد به يې بيانول.[رواه الطبري]

رسول الله صلی الله عليه وسلم حسان رضي الله عنه ته وفرمايل: (ای حسآنه ! د رسول الله له طرفه ورته ته ځواب ورکړه، ای الله په روح القدس يې مرسته وکړه).[متفق عليه] او ابن عساکر په تاريخ دمشق کې ذکر کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: « څوک به د مسلمانانو د ناموسونو دفاع وکړي ؟» نو کعب وويل زه يې کوم، ابن رواحه وويل زه يې کوم او حسان وويل زه يې کوم ، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم حسان ته وفرمايل: « ته يې بدې بيان کړه او روح القدس به درسره مرسته وکړي».. رسول الله صلی الله عليه فرمايلي: «يقينا الله تعالی حسان په روح القدس پياوړی کوي، تر څو يې چې د الله د رسول څخه دفاع کوله» [سنن ترمذي]

٢. د امت د ځوانانو او بيا په ځانګړې توګه د مجاهدينو مورال پورته کيږي، د سلمه بن الاكوع رضي الله عنه څخه روايت دې، وايي: «مونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره خيبر ته ووتلو، د شپې مو مزل وکړ، نو يو نفر عامر بن اكوع ته وويل، آيا مونږ ته د خپلو شعرونو څخه يوه څه نه را اوروې؟-عامر ډير تکړه شاعر و- نو شروع شو او خپل شعرونه يې زمزمه کول». [رواه البخاري ومسلم]

٣. د کافرانو او مرتدينو درواغ په ډاګه کول، او امت ته د دوی د چټلتيا او کمزوري رابښکاره کول، او د دوی دا غورول شوې پلو د مسلمانانو څخه غونډول او د دوی په زړونو کې ويره اچول، ابن عبدالبر په الاستيعاب کې د ابن سيرين څخه روايت کوي: «د مسلمانانو شاعران حسان بن ثابت ، عبدالله بن رواحه ، او کعب بن مالک وو، نو کعب به کافران له جګړې څخه ويرول، ابن رواحه به په کفر شرمول، او حسان به يې د قومونو بې عزتي کوله» ابن سيرين وايي: « د دوس قبيلې ډيرو خلکو د کعب بن مالک د دې وينا له ويرې اسلام راوړی و:

قضينا من تهامة كل وتر *** وخيبر ثم أغمدنا السيوفا

نخيرها ولو نطقت فقالت*** قواطعهن: دوسا أو ثقيفا

له تهامه سيمې څخه مو هر ضرورت پوره کړو * او له خيبر څخه هم ، بيا مو توري په تيکو کې کيښودې* مونږ اختيار ورکوو خوکه خبرې يې کړلی شوی نو ويلې به يې و * چې بيا پريکونکی د دوس يا ثقيف قبيلو دي.

نو دوس قبيلې والا وويل چې ځئ چې ورشو د ځان لپاره څه پناه ونيسو، داسې نه چې پر مونږ هغه څه رانشي کوم چې پر ثقيف راغلي دي.

٤. داسې ريښتوني انځورونه را نقل کول چې د ملت د اتلانو او دښمنانو په مينځ کې د روانو جګړو حقيقت ښکاره شي او بل د هغو حقيقتونو ثابتولو لپاره چې د اسلام شاړلو ننګونه کړي وي له دې ويرې څخه چې خراب نشي يا يې د وينو تاجران غلا نکړي.

النَّصِيحَة الدين

دين خير خواهي ده

قال تعالى: {لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضَى وَلَا عَلَى الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنْفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِنْ سَبِيلٍ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ} يبى[التوبة:٩١].

ژباړه: په کمزورو، مريضانو او هغو خلکو کومه ګناه نشته چې د جهاد لپاره د تللو خرچه نه لري، خو پدې شرط چې د الله تعالى اور د هغه درسول لپاره به خير خواه وي، نشته په نيکي کونکو

د صحابه بيعت

د جرير بن عبد الله ﷺ نه روايت دی، وايي: ما د رسول الله ﷺ سره د لمانځه په پابندی، زكاة وركولو او د هر مسلمان لپاره په خير خواهی لتولو بيعت کړی.

[صحيح البخاري ومسلم].

د چا خير خواهي کوئ؟

د تميم الداري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي:«دين نصيحت "خير خواهي" ده»، صحابه كرامو وويل: د چا لپاره؟ هغه وفرمايل: «د الله تعالى د هغه د رسول، د مسلمانانو د امامانو "مشرانو" او عامو مسلمانانو لپاره».

[صحيح البخاري ومسلم].

د نصيحت او خير هواهی حقيقت

ابن حجر عسقلاني رحمه الله په "فتح الباري" کې وايي:

1

د الله تعالى لپاره خير خوايي

د اله تعالى داسې صفات بيانول چې هغه يې لائق دی، هغه ته پټ او ښکاره غاړه ايښودل، د هغه په خوښو اعمالو کې په نيکي کولو مينه ښکاره کول، د هغه تعالى د ناخوښيو څخه په ګناه پريښودلو ويره ښکاره کول او هغه ته د ګناهکارو د راستنولو لپاره جهاد کول.

2

د الله تعالى د كتاب خير خواهي:

زده کول يې، بل ته ښودل، په تلاوة حروف صحيح اداء کول، په سمه توګه ليکل، په معنا يې ځان پوهول، پکې ذکر شوي پولې ياد ساتل، په احکامو يې عمل کول او د باطل پرستو د تحريف دفاع ترې کول.

3

د رسول الله ﷺ لپاره خير خوايي:

د هغه تعظيم کول، د هغه په ژوند او وروسته مرسته کول، د هغه د خبرو او کارونو پورې اقتداء کول، د هغه او د هغه د تابعدارو سره مينه کول.

4

د مسلمانانو د امامانو لپاره خير خواهي:

د هغوی سره په مسئوليت پورته کولو کې مرسته کول، د غفلت په وخت کې هغوی راويښول، د خطايي پروخت د هغوی متوجه کول، پر هغوی د مسلمانانو خبره را غونډول او خفه زړونه ورته رانږدې کول او لويه خير خوايي يې دا ده چې د ظلم څخه يې لاس ونيسې، د دين په مشرانو کې مجتهدين هم شامل دي، د هغوی سره خير خواهي د هغوی علم او فضيلت خپرول او پر هغوی ښه ګمان کول.

5

د عامو مسلمانانو لپاره خير خواهي:

په هغوی شفقت کول، د هغوی په ښيګړه کې کوښښ کول، هغوی ته ګټوري زده کړې ښودل، د هغوی نه ضرر دفع کول، هغوی لپاره هغه څه خوښول چې د ځان لپاره يې خوښوې او د هغوی لپاره هغه څه بد ګڼل چې د ځان لپاره يې بد ګڼي.



د ناکاره ملایانو ځانګړي صفات

لیکنه ابو حفص الشامي رحمه الله

مونږ په مخکنۍ مقاله کې د «ناکاره ملایان لعنتیان دي غضب پرې شوی» تر عنوان لاندې مقاله ولیکله [کومه چې په لومړۍ رومیه کې خپره شوه]، هلته مونږ د علم د خاوندانو د نوم توضیح وکړه او مونږ هغه ځانګړتیاوې ذکر کړل چې دوی پرې د دین امامان ګرځیدلي دي، هلته مونږ دا خبره هم ذکر کړه چې علماء سوء(ناکاره ګمراه ملایان) هیڅکله د علماؤ ډله کې نه شاملیږي که هرڅومره علم زده کړي او کتابونه ولیکي، بلکې دغه ډول ملایان یهودو ته ورته والی لري، ځکه هغوی هم علم حاصل کړی و خو عمل یې پرې نه کاوه، بلکې ګمراهۍ ته یې بلنه کوله، خو دا چې زمونږ په زمانه کې ناکاره ملایان ډیر دي نو باید یو څه ځانګړي صفات یې ذکر کړو ترڅو خلک د دوی په اړه پوره معلومات ولري او باخبره وي.

لومړۍ: حق پټول

د علم د اهدافو څخه یوه دا هم ده چې علم باید خپور او خلکو ته بیان کړی شي؛ ځکه د خلکو هدایت او ښیګړه پدې پورې اړیکه لري، نو پدې خاطر د علم پټول او نه خپرول د لویو ګناهونو او سختو هلاکوونکو څخه دی، له همدې امله الله تعالی د علم او کتاب د خاوندانو څخه مضبوطه وعده اخیستې؛ چې خلکو ته به یې بیان کوي او د هغوی حاجت به نه پټوي، الله تعالی فرمايي:{وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ فَنَبَذُوهُ وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ وَاشْتَرَوْا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُون} [آل عمران: ۱۸۷], ژباړه: او کله چې الله تعالی د هغه چا نه مضبوطه وعده واخیسته چې کتاب یې ورکړی: چې دغه کتاب به خلکو ته بیانوي او نه به یې پټوئ، نو هغوی دغه کتاب شا ته ګذار کړ او ډیر کم قیمت یې پرې ترلاسه کړ؛ ډیر بد دی هغه څه چې دوی اخیستی دی.

ځکه خو ناکاره ملا د الله تعالی د دین سره خیانتګر، د هغه په نعمت کفر کونکی او د خلکو د ګمراهۍ لامل دی، له همدې امله الله تعالی د هغه د لعنت فیصله کړې او د خلکو لعنت یې پرې هم ویلی ځکه دغه ملا د حق په پټولو د خلکو سره هم دوکه کونکی دی، الله تعالی فرمايي:{إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَىٰ مِن بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ أُولَٰئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللَّاعِنُونَ} [آل عمران: ۱۵۹]، ژباړه: یقینا هغه څوک چې نازل شوي واضح آیتونه او هدایت پټوي؛ وروسته له هغې چې مونږ یې خلکو ته کتاب (قرآن) کې وضاحت کړی، په همدغه خلکو الله تعالی لعنت کوي او هم پرې لعنت ویونکي لعنت وايي.

تر ټولو لوی هغه څه چې دغو ناکاره ملایانو د خلکو نه پټ کړی دي؛ هغه د طواغیتو حال او د هغوی په اړه د الله تعالی حکم دی، ځکه الله تعالی مونږ ته امر کړی چې د طواغیتو څخه ځان وساتو او کفر پرې وکړو او دغه کار یې د توحید او ایمان د بنسټ څخه ګرځولی دی، نو کله چې خلکو ولیدل چې د هغوی د یاد وړ ملایان د طاغوتي حاکمانو سره د مداهنت نه کار اخلي او د هغوی د شرک او فساد څخه غلي پاتې کیږي،



د طواغیتو یو ملا چې د ذبحې په انتظار دی

(بلکې خلکو ته د مصلحت لپاره د شرک جواز هم ورکوي)، نو پدې کار سره ډېر خلک په طواغیتو ایمان لري، دوستي ورسره کوي او د هغوی په دین کې داخلیږي، بلکې د هغوی پوځیان ګرځي، چې د دغې ټول ارتداد سبب د علماء سوء حق پټول او یا د باطل سره ګډول دي.

د بیلګې په توګه که مونږ جزیرة العرب ته وګورو نو وبه وینو چې د آل سلول لخوا د خپل کفر او فساد په ډاګه کول او بیا په دغه ردت او کفر د خلکو لخوا د دوی تابعداري د «هيئة كبار العلماء»، بن باز، ابن عثیمین، الفوزان، د دې زماني آل الشيخ او داسې نورو له امله رامنځته شوې...ځکه دغو ناکاره ملایانو حق پټ کړ او خلکو ته یې د آل سلول حالت واضح نه کړ، د دې سربیره یې دغو مرتدینو ته «ولاة الأمر» وویل، چې پدې سره په خلکو حق نور هم ګډوډ کړی شو، ځکه پدې سره یې آل سلول شرعي حاکمان وګرځول!

دغو ملایانو د خلکو څخه د طواغیتو د رسمي تشریعي پریکړو حکم هم پټ کړ، همدا ډول یې ترې په هیواد کې د صلیبي اډو د قیام حکم هم پټ کړ، د سود د حلال ګڼلو حکم او داسې نور ډېر...چې پدې سره په دغو طواغیتو ډېر خلک دوکه شول، ګمراه او مرتد شول، نو د دغو ملایانو په غاړه به د هغې ګناه پوره حصه وي چې د دوی اتباع پکې واقع شوي، بې لدې چې د هغوی له ګناه څخه څه کم شي.

همدغه حال په مصر کې هم دی؛ د خلکو د ګمراهی او د حسني مبارک او بیا د سیسي د تابعداری لامل همدغه د ازهر ملایان او د سلفیت دعویداران دي، په همدې توګه د شرک په پارلمانونو او ټول ټاکنو کې د خلکو د ننوتلو لامل هم دغه مرتد اخوانیان او د تیارو تنظیم دی، همدغه انځور به تاته د نړۍ په ډېرو هیوادونو کې په لاس راشي.

دویم: په شریعت کې تحریف او بدلون راوستل:

د ناکاره ملایانو(علماء سوء) یوه علامه دا هم ده چې دوی کله د حق په پټولو ونه توانیږي نو بیا دوی شریعت بدلوي او تحریف پکې کوي، د شریعت د نصوصو فاسد تاویلات لټوي او د حق معنا څخه یې باطل معنا ته اړوي، لکه چې الله تعالی د یهودو په اړه ویلي: {يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَنْ مَوَاضِعِهِ} [النساء: ٤٦]، ژباړه: دوی د الله تعالی خبرې د خپلو ځایونو څخه نورو ته کړوي، لدې وروسته بیا دوی د دغې تحریف او تاویل نسبت الله تعالی ته کوي، نو دوی لومړی نصوص د خپلو معناو څخه باطلو معناګانو ته واړوي او بیا خلکو ته دا ښکاره کړي چې د الله تعالی د کتاب هم دغه مراد دی، چې پدې کار سره دوی یو ځل د حق معنا نفي کوونکي شي او بیا د باطل معنا اثبات کوونکي؛ پدې کار کې د دوی لپاره سمبول یهود وي ځکه هغوی پدې کار د پخوا څخه عادي دي، لکه چې الله سبحانه وتعالی فرمایي:{وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُونَ أَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتَابِ لِتَحْسَبُوهُ مِنَ الْكِتَابِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ} [آل عمران: ٧٨]، ژباړه: او له دوی یوه ډله د الله تعالی په کتاب ژبه کړوي، ترڅو پرې تاسو داسې ګمان وکړئ چې دا د کتاب څخه دي، خو دغه د کتاب برخه نه وي، دوی وایي چې دغه د الله تعالی له پلوه دي خو دغه د الله تعالی له پلوه نه وي، دوی په الله تعالی دروغ وایي او دوی پوهیږي.

د بیلګې په توګه د جهاد شرعي اوامر؛ د علماء سوء عادت دا دی چې دوی دغه نصوص د خپلې جنګي معنا څخه نورو معنا ګانو ته اړوي، ترڅو خلک د کفارو او مرتدینو د جنګ څخه واړوي، دا لا څه چې دوی د جهاد لپاره نورې داسې معناوې له ځانه جوړې کړي چې الله تعالی پرې کوم دلیل ندی رالیږلی، لکه دوی دا ګمان کوي چې د طاغوت په پوځ کې داخلیدلو ته جهاد وایي، یا د شرکي ډیموکراسی په عملیه کې داخلیدو ته جهاد وایي؛ ترڅو د نورو سیکولرانو سره پدې مقابله وکړي چې څوک به د الله تعالی سره ډیره جګړه کوي او د هغه د حکم او قانون به زیات مخالف کوي، همدا ډول نور داسې د اسلام څخه ویستونکي کارونه، چې دغه ملعونان یې د اسلام د ګوپ په څوکه پورې تړي.

همدا ډول هغه شرعي نصوص چې په حق د ټینګیدو او ښکاره کولو امر کوي، نو علماء سوء دغه ډول نصوص تعطیلوي او عمل پرې نه کوي، پدې ګمان چې دوی په کومه باطله تګلاره روان دي همدغه د الله تعالی امر دی او په دلیل کې د الله تعالی دغه وینا وړاندې کوي چې پرمایي: {وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ} [البقرة: ١٩٥]، ژباړه: او تاسو په خپلو لاسونو ځان هلاکت ته مه اچوئ.

سره لدې چې پدې آیت کې د هلاکت نه مراد د جهاد پریښودل دي، لکه چې صحابي أبو أيوب الأنصاري -رضي الله عنه- وایي: « نو هلاکت ته ځان اچول دا و چې مونږ د خپلو مالونو په ساتنه او زیاتولو کې لګیا شو او جهاد مو پریښود « [سنن أبو داود]، نو دغه علماء سوء څه ډېر بد خلک دي او څه ډېر بد عمل کوي چې په خلکو دین ګډوډوي.

دریم: د الله تعالی د لارې نه منع کول:

چونکې ناکاره ملایان(علماء سوء) د فساد او ګمراهی په لاره روان وي، نو حرص یې پدې کې وي چې خلک هم په خپله لاره روان کړي او د حق څخه یې ستانه کړي، ځکه د هغه سره ویره وي چې که خلکو ته شرعي آیتونه بغیر د کوم وراني او زیاتي ذکر کړم نو زما د کار خلاف به پکې ښکاره شي، نو له همدې امله تحریف کوي او د شرعي نصوصو مری تاووي ترڅو د هغه د حال او خواهش سره سمون وخوري، له همدې امله به ته ګورې چې دغه ناکاره ملایان به ځوان نسل د جهاد څخه منع کوي ځکه دی په خپله دنیا ته دروند شوی او د جهاد څخه ناست دی، بله وجه دا ده چې دغه ناکاره ملایان د حق د ښکاره کولو څخه ویریږي نو ځکه حق د باطل سره ګډوي، همدغه د خپل دغوت بنیاد بولي او خلکو ته داسې څرګندونه کوي چې همدغه اصلي حکمت او هوښیار تیا ده، نو دغه ناکاره ملا نه حق ښکاره کړي او نه یې په پټولو بس کړي، بلکې په خلکو یې ګډوډ کړي، د ګیدړ په څیر چلونه کوي او د الله تعالی په اړه بې علمه ویناوې کوي؛ تر څو د الله تعالی د لارې نه خلک منع کړي، لکه چې یهودو او نصاراو ملایانو او پیرانو به کول، الله تعالی فرمایي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ

وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ} [التوبة: ٣٤]. ژباړه: ای مومنانو؛ یقینا ډیر د ملایانو او پیرانو څخه د خلکو مالونه په باطله طریقه خوري او د الله تعالی د لارې څخه خلک منع کوي او هغه خلک چې سره او سپین زر خزانه کوي او د الله تعالی په لاره کې یې نه خیرات کوي نو هغوی ته د درد ناک عذاب زیری ورکړه.

څلورم: په دنیا ډیر زیات حرص کول:

علماء سوء چې حق پټوي او په خلکو یې ګډوډوي د دې تولو لامل د دنیا محبت او پرې حرص کول دي، دوی په دغه کفر، نفاق او په دروغ ویلو چا مجبوره کړي ندي؛ بلکې د طواغیتو سره غوړ وظایف او پیړې تنخواګانې د دې لامل دی؛ نو ځینې یې د طواغیتو سره د مرتبې او نږدې ګیدو ړانده وي او ځینې نور یې د تلویزیون په پرده د راوتلو او د تحفو عاشقان وي! او پدې خاطر هغه نه غواړي ترڅو د خپلو دغو خواهشاتو څخه د حق کلمې پر اظهار محرومه شي او شهرت د لاسه ورکړي، نو دغو ناکاره ملایانو د الله تعالی نازل کړي آیتونه پټول غوره کړل-کوم چې طواغیت خلکو ته نه ښکاره کوي- او پدې سره یې د دنیا لږ قیمت واخیست، الله تعالی فرمایي:{إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ الْكِتَابِ وَيَشْتَرُونَ بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا أُولَئِكَ مَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ إِلَّا النَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} [البقرة: ١٧٤]، ژباړه: یقینا هغه خلک چې د الله تعالی د کتاب نازل شوي احکام پټوي او پدې سره د دنیا کم قیمت اخلي، نو دغه خلک نه خوري په خپلو خیټو کې مګر اور، الله تعالی به د دوی سره د قیامت په ورځ خبرې ونه کړي او نه به یې پاک کړي او د دوی لپاره دردناک عذاب دی، او الله تعالی فرمایي: {وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ فَنَبَذُوهُ وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ وَاشْتَرَوْا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ} [آل عمران: ١٨٧]، ژباړه: او کله چې الله تعالی د هغه چا نه مضبوطه وعده واخیسته چې کتاب ورته ورکړی شوی؛ چې تاسو به دغه کتاب بیانوئ او د خلکو څخه به یې نه پټوئ؛ دوی دغه کتاب شا ته ګذار کړ او لږ قیمت یې پرې واخیست؛ نو ډیر بد دی هغه څه چې دوی اخیستی دی، ابن قیم رحمه الله وایي: «په علماؤ کې چې چا دنیا غوره کړه او مینه یې ورسره وکړه، نو هغه به خامخا په الله تعالی د حق پرته نورې ویناوې کوي»[الفوائد].

پنځم: د غلتو اوازو، کوابښ او حق د مرستې پریښودو څخه متاثره کیدل او له امله یې د حق څخه کږیدل:

د علماء سوء(ناکاره ملایانو) له صفاتو څخه دا خبره هم ده چې دوی حق ښه پیژني لیکن د خپلې دنیا د ساتنې په خاطر د طواغیتو مخې ته ذلت او سرټیټي غوره کوي؛ چې دا ډیر لوی جنایت او سخت خیانت دی!

لکه چې د بلعام بن باعوراء په قصه کې ذکر دي؛ هغه د جبارینو د ښار یو سړی و، که زمونږ د زمانې ټول ناکاره ملایان راجمع کړی شي نو د بلعام لسمې برخې ته به هم ونه رسي، څکه ابن عباس رضي الله عنهما وایي: « هغه د الله تعالی په اسم اعظم پوه و» [تفسیر ابن أبي حاتم]، چې پدې سره د هغه لویه علمي مرتبه په ډاګه کیږي، بعضې سلف وایي: «د هغه دعاء به قبلیده، خلکو به د سختیو پر وخت له ځانه مخکې کاوه او هغه د بني اسرائیلو د علماؤ څخه و» [رواه ابن أبي حاتم عن مالك بن دینار]، لیکن د دې هرڅه باوجود چې کله هغه له سمې تګلارې کوږ شو او د سپیڅلي حقه نه یې بله لاره غوره کړه نو الله تعالی ورته د سپي مثال ذکر کړ.

د هغه قصه داسې وه چې کله موسی علیه السلام د عمالقه جبارینو سیمې ته راغی نو بلعام بن باعوراء ته د خپل تره ځامن او قوم راغی او ورته یې وویل: «دا موسی پدې علاقه کې یو نوی سړی دی، ډیرې لښکرې ورسره دي؛ که چیرته پر مونږ برلاسی شي نو هلاک به مو کړي، نو ته له الله تعالی څخه وغواړه چې موسی او د هغه لښکرې زمونږ څخه ستانه کړي هغه ورته وویل: «که چیرته ما موسی او د هغه لښکرو ته خیرې وکړې نو زما دنیا او آخرت به دواړه غرق شي، لیکن قوم ترې همداسې غوښتنه کوله تردې چې موسی علیه السلام ته یې خیرې وکړې، چې پدې سره د هرڅه نه وواته» [ابن أبي حاتم د ابن عباس نه روایت کړی]، الله تعالی فرمایي: {وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِي آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ فَكَانَ مِنَ الْغَاوِينَ * وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا وَلَكِنَّهُ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ} [الأعراف: ١٧٥-١٧٦]، ژباړه: دوی ته د هغه سړي خبر ولوله چې هغه ته مونږ خپل آیتونه ورکړي وو، نو شیطان ورپسې شو چې بالآخره هغه د ګمراهانو څخه شو، که چیرته زمونږ خوښه شوې وی نو هغه به مو په دغو آیتونو پورته کړی وی لیکن هغه زمکې ته دروند او د خپلو خواهشاتو تابع شو نو د هغه مثال د سپي دی چې ژبه یې راویستې وي؛ که ته پرې حمله کوې او که یې پریږدې په هر حال د هغه ژبه راوتې وي.

مالك بن دینار وایي: «موسی علیه السلام بلعام بن باعوراء د مدین بادشاه ته ولیږه چې هغه الله تعالی ته دعوت کړي، نو بادشاه بلعام ته څه ځمکه او هدیې ورکړې، نو بلعام د هغه بادشاه په دین شو او د موسی علیه السلام دین یې پریښود، چې بیا یې په حق کې دغه آیت نازل شو»[تفسیر ابن أبي حاتم].

بلعام ابن باعوراء: {أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ}، د دنیا او د هغې خوندونه ته ښکته شو او هغه یې خوښ کړل، د الله تعالی د آیتونو څخه یې مخ ستون کړ او د خپل خواهشات پرې غالبه شول، نو د سپي په څیر به یې همیشه ژبه ویستلې وي.

مجاهد رحمه الله وایي: «دا د هغه چا مثال دی چې قرآن لولي او عمل پرې نه کوي»[تفسیر الطبري]، قرطبي وایي: «دغه مثال د ډیرو علماء په نزد د هغه چا په اړه دی چې قرآن ورته ورکړل شوی وي او عمل پرې نه کوي»[تفسیر القرطبي]، چې د هغه ډول خلکو زمونږ په زمانه کې څه ډیر دي!

پای:

د علماء سوء په اړه دغه یو شمیر صفات الله تعالی ذکر کړي؛ ترڅو یې وشرموي، خپلو بندګانو ته یې ور په ګوته کړي چې ځان ترې وساتي، د هغوی خبرو ته غوږ ونه نیسي او نه ترې علم واخلي، مونږ پدې آیتونو کې ګورو چې الله تعالی دغه ناکاره ملایان ذکر کړي خو علماء یې ورته ندي ویلي؛ سره د دې چې دوی د الله تعالی په احکامو پوه دي، لیکن دوی د الله تعالی څخه د ویرې او خشیت صفت د لاسه ورکړی او په خپل علم عمل نه کوي نو دوی ته خپل دغه علم کومه ګټه ونه رسوله، بلکې د دې لامل شو چې په دنیا او آخرت کې د دوی د لعنت لامل وګرځیده، بلکې الله تعالی دوی به ډیر بدو او ناکاره صفاتو یاد کړل او د جهنم اور ته یې داخل کړل، بلکې الله تعالی د یهودو او نصاراو د پیرانو او ملایانو –کوم چې د علماء سوء سلف بلل کیږي-تابعداري او کفر داسې شرک اکبر وباله چې د ملت څخه انسان بهر کوي، الله تعالی فرمایي:{اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَهًا وَاحِدًا لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ} [التوبة: ٣١]، ژباړه: دوی خپل ملایان او پیران د الله تعالی نه پرته په خدایی سره نیولي او عیسی ځوی د مریم یې هم په خدایی سره نیولی او دوی ته امر نه شوی مګر د دې خبرې چې دوی دې د یوه معبود بندګي وکړي چې نشته لائق د بندګۍ مګر یواځې هغه دی، الله تعالی د هغه څه پاک نه چې دوی یې ورسره شریکوي.

نو د ناکاره ملایانو په تقلید کې به هیڅوک معذوره نه ګڼل کیږي، ځکه په هر انسان واجب دي چې د حق په طلب او عمل کې خپل کوښښ وکړي، والحمد لله رب العالمین.

د بدعت

حرمت او له بدعت څخه پر ځان ساتلو امر

الله فرمايي: {ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٍ مِّنَ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ} [الجاثية: ١٨]

ژباړه: بيا مونږ ته د شريعت په واضحه دين او تګلاره وګرځولې نو ته د دغه شريعت تابع شه او د هغه چا تابعداري مه کوه چې نه پوهيږي.

قال تعالى: {رَبَّنَا آمَنَّا بِمَا أَنزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُولَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ} [آل عمران: ٥٣]

ژباړه: يا الله مونږ په هغه څه ايمَان راوړ چې تا رانازل کړي او د پيغمبر تابعداري شو، نو مونږ هم د ګواهانو سره وليکه

ابن تيميه رحمه الله وايي: "د عبادتونو بنسټ په شريعت او اتباع ايښودل شوی، نه په خواهشاتو او بدعاتو، ځکه اسلام په دوه بنيادونو ولاړ دی: لومړی: مونږ بايد د هغه الله تعالى عبادت وکړو چې يواځې دی؛ شريک نه لري، دويم: مونږ بايد د الله تعالى بندګي په هغه شکل وکړو چې د خپل رسول ﷺ په ژبه يې مونږ ته راښودلی؛ نه دا چې مونږ د خپلو خواهشاتو او بدعاتو په طريقه بندګي وکړو، نو بناء هيچا ته روا ندي چې د الله تعالى بندګي وکړي، مګر په هغه څه چې د الله تعالى رسول ﷺ مونږ ته د شريعت په توګه راوړی؛ که هغه واجب عبادتونه دي او که مستحب"

[مجموع الفتاوى]

رسول الله ﷺ فرمايي: (وَشَرُّ الأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا، وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلاَلَةٌ) [رواه البخاري ومسلم]

ژباړه: او په دين کې بد کارونه هغَه دي چې نوي پيدا کړی شِي او هَر بدعت ګمراهي ده

ابن تيميه رحمه الله وايي:" چا چې يو شی د دين او الله تعالى ته د نږدې کيدو په خاطر وکړ او د شريعت حکم پکې نه و؛ نو دغه سړی ګمراه بدعتي دی او د همدغې په اړه رسول الله ﷺ فرمايي:«هر بدعت ګمراهي ده» نو بدعت د شريعت ضد دی او شريعت هغه څه دي چې الله تعالى او د هغه رسول ﷺ پرې د وجوب او استحباب امر کړی وي، اګر که د هغه په زمانه کې نه وي شوی، لکه په تراويحو کې په يوه امام راجمع کيدل، قرآن کريم په يوه مصحف کې راجمع کول، د مرتدينو او خوارجو پر خلاف جنګيدل او داسې نور او هغه چې الله تعالى او د هغه رسول ﷺ شريعت نه وي ګرځولی نو هغه بدعت او ګمراهي ده " [مجموع الفتاوى]

رسول الله ﷺ فرمايي: (مَنْ عَمِلَ عَمَلاً لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ) [رواه مسلم].

ژباړه: چا چې داسې کار وکړ، چې زمونږ امر پرې موجود نا منل شوی دی

ابن شاهين او لالکائي د سعيد بن جبير رحمه الله نه روايت کوي؛ هغه وايي: "الله تعالى نه قبلوي هيڅ وينا مګر په عمل او هيڅ عمل نه قبلوي مګر په وينا او هيڅ وينا او عمل نه قبلوي مګر د نيت سره او هيڅ وينا، عمل او نيت نه قبلوي مګر هغه مهال چې د سنت سره موافقه ولري" [رواه اللالكائي]، ابن تيميه رحمه الله وايي: د سنت نه مراد هغه شريعت دی چې الله تعالى او د هغه رسول ﷺ پرې امر کړی، ځکه هغه وينا، عمل او نيت چې مسنون او د الله تعالى د امر پر اساس د شريعت برخه نه وي نو هغه به بدعت وي؛ الله تعالى ورسره مينه نه کوي، نو نه يې قبلوي او نه د دې صلاحيت لري چې قبول شي او دين وګرځي"

[مجموع الفتاوى].

د مرابطینو د دولت
د بعضې مشرانو سیرت

د صحراء په هیوادونو کې د شریعت راتازه کونکی

په خپل مخلوق کې د الله تعالی د سنت او طریقې څخه دا هم ده؛ چې کله بندګان په خپلو ګمراهیو او ناسمیو کې بې لارې شي نو الله تعالی ورته داسې یو څوک راولیږي چې لاره ورته سمه کړي او دین ورته تازه کړي، بیا خلک په دوه برخو وویشل شي، یوه برخه یې خبره ومني او د بلې ډلې زړونه ورته کاږه شي، بیا موحدین د الله تعالی د تګلارې د مخالفینو څخه بې زاري اعلان کړي، په توره ورسره جنګ پیل کړي تر دې چې الله تعالی خپل دین بریمن کړي او ټول دین د الله تعالی شي؛ د دغو مجددینو څخه یو هم: مجاهد، داعي او عالم عبد الله بن یاسین رحمه الله هم دی.

د عبد الله بن یاسین قصه هغه مهال پیل شوه چې کله د مغرب په صحراء کې د اوسیدونکې یوې قبیلې کداله مشر؛ یحیی بن ابراهیم فیصله وکړه چې خپل قوم ته د الله تعالی شریعت ورسوي او د هغه په شرعي پولو یې خبر کړي، یحیی بن ابراهیم یو نیک سړی و، هغه پدې لټه کې و چې څوک ورسره د خپل قوم د دعوت لپاره صحراء ته ولاړ شي د قبیلې د دې مشر خبره ډیرو داعیانو ونه منله ځکه چې پدې کار کې ورته سختې ښکاره شوه، مګر مجاهد داعي عبد الله بن یاسین د قبیلې د مشر یحیی بن ابراهیم خبرې ته لبیک ووایه او د الله په مرسته ورسره روان شو.

سلاوي په خپل کتاب [الاستقصا لأخبار دول المغرب الأقصى] کې وایي: « د دغې ماموریت لپاره د علماؤ څخه عبد الله بن یاسین الجزولي روان شو؛ عبدالله د تکړه طالب العلمانو څخه و، غوره، دیندار، زاهد، د سیاست خاوند او ګنو علمونو ته یې لاس رسی درلوده، نو د یحیی بن ابراهیم سره صحراء ته ولاړ»، پدې توګه ابن یاسین د صحراء په زړه کې د سفر او ناشنایي مشکلات پدې خاطر برداشت کړل چې یو بې لارې قوم ته دین ورسوي.

کله چې عبد الله بن یاسین د «لمتونه» قبیلې کیږدیو ته ورسید، هغوی ترې د راتلو د لامل په اړه وپوښتل، ده ورته د هغو دیني احکامو په اړه بیان وکړ چې دا یې د تبلیغ په خاطر صحراء ته راغلی و، ابن اثیر وایي: «د قبیلې خلکو ورته وویل: مونږ ته د اسلامي شریعت په اړه بیان وکړه، نو هغه ورته د اسلام عقائد او فرائض بیان کړل، نو قبیلې ورته وویل: هر چې د لمونځ او زکاة خبره ده نو په هغې مو سر خلاص شو، لیکن ستا دا خبره: چې که چا قتل وکړ وژل کیږي به، که چا غلا وکړه لاس به ترې غوځیږي او که چا زنا وکړه وهل کیږي یا رجم کیږي به نو دا داسې کار دی چې مونږ یې پابندي نشو کولی، ته زمونږ څخه بلې قبیلې ته ولاړ شه، نو هغوی دواړه له دغه ځایه ولاړل»، پدې توګه دغه مرتده قبیله د کار په پیل کې د شریعت د منلو څخه منع شوه، ابن یاسین هم هلته پاتې کیدل قبول نکړل، ځکه هغوی پوره شریعت نه منلو.

ابن یاسین د کداله قبیلې سیمې ته د هغې د مشر په ملتیا ولاړ، ابن اثیر وایي: «عبد الله بن یاسین کداله قبیله او ورسره په ګاونډ کې پرتې قبیلې د شریعت حکم ته راوبللې، بعضو یې خبره ومنله او بعضو نورو یې انکار او نافرماني وکړه»، بیا چې کله دوی د شریعت له احکامو تنګ راغلل نو زور یې پرې راوړ چې له سیمې بهر شي، دا هغه وخت و چې د ابن یاسین سره کوم ځواک نه و چې د دغې



د سېنېګال د سېنېګال جزیره چې وېل کېږي لدې ځای مرابطینو خپل جهادي سفر پیل کړی و

قبیلې سره وجنګېږي نو اراده یې وکړه چې سوډان ته ولاړ شي او هلته دعوت وکړي، لیکن د کداله قبیلې مشر ورته مشوره ورکړه چې هلته په یوه مشهوره مدرسه کې پاتې شي، (ویل کېږي چې دغه مدرسه د سنګال د سیند سره نږدې وه)، ابن خلدون وایي: « دوی له خلکو څخه د نیل سیند په یو داسې لوړ ټاپو کې ځانته شول چې او به ترې له څلور خواو نه چاپیره وې، په اوړي که به اوبه لږې وې او په ژمي کې به ډیرې وې چې پدې سره ګڼ ټاپوګان ترې جوړ شول، دوی دواړه د دغه ټاپو په ځوړونو کې ننوتل او د الله تعالی عبادت ته یې ځان وزګار کړ».

د دعوت څخه جهاد ته

د الله تعالی کړنې وې چې دغه داعي په سیمه کې د یو اسلامي امارت نیالګی شو، ابن خلدون وایي:» د چا په زړه کې چې د ذرې په مقدار خیر موجود و او د ابن یاسین دعوت ورته ورسید نو د سیلاب په څیر پرې راتوی شول او د هغه په دین او جونګړه کې ننوتل، کله چې ورسره د ملګرو شمیره زرو سړو ته ورسیده نو شیخ عبد الله بن یاسین ورته وویل: زر کسان د شمیرې د کم والي له امله نه مغلوبه کېږي، اوس پر مونږ د حق قیام، دېته دعوت او خلک پرې پابند کول واجب شوي، نو ځې چې دغه کار سر ته ورسوو، دوی د خپل ځای څخه راووتل او د لمتونه او کداله قبیلو هغه خلک یې ووژل چې د شریعت مخې ته خنډ وو» ، پدې توګه ابن یاسین د یو مجاهد په توګه را ښکاره شو او د هغو مرتد قبیلو پر خلاف یې جنګ پیل کړ چې د شریعت د منلو او پابندۍ څخه یې انکار کاوه.

ابن اثیر پدې اړه وایي: « ابن یاسین خپلو ملګرو ته وویل: په تاسو واجب دي چې د حق د دغو مخالفینو او د اسلامي شریعت څخه د انکار کونکو پرخلاف وجنګېږئ، د دوی د جنګ لپاره تیار شئ، بیرغ پورته کړئ او خپل امیر مخکې کړئ»، د مرابطینو په دغه وړه مومنه ډله هغه وکړی شول چې صحراء د الله تعالی حکم ته سرټیټې کړي، سلاوي وایي: «هغه خپل جهاد ته دوام ورکړ تردې چې ټوله صحراء یې د لاس لاندې کړه او قبایل یې سرټیټي کړل...نو د صحراې په ټولو هیوادونو، د سوډان په خاوره، د قبلې په هیوادونو کې د مصامده او د مغرب په ټولو برخو کې مشهور شو، د ابن یاسین په اړه دا ویل پیل شو چې په کداله قبیله کې یو سړی پیدا شوی؛ الله تعالی او سمې لارې ته بلنه کوي او د الله تعالی په نازل کړی شوي قانون فیصلې کوي؛ یو عاجزه او په دنیا کې زاهد بنده دی، د هغه نوم په ټوله نړۍ کې خپور شو، د هغه سپیڅلتیا وکولی شول چې زړونو ته ځان ورسوي او خلکو ورسره هم محبت پیل کړ»، ځکه چې کله هغه په پیل کې الله تعالی د خلکو په خفه کیدو خوشحاله کړ نو الله تعالی ترې خلک وروسته خوشحاله کړ؛ محبت یې ورسره وکړ او په اطاعت کې یې ننوتل.

د شریعت حکم

کله چې د کداله قبیلې مشر وفات شو نو ابن یاسین د لمتونه قبیلې مشر رامخکې کړ ترڅو پوځي مشري په غاړه واخلي، سلاوي وایي: « عبد الله بن یاسین د صنهاجه څخه د قبیلو مشران راجمع کړل او یحیی بن عمر اللمتوني یې پرې مشر کړ او عبد الله بن یاسین د ټولو امیر و... نو یحیی بن عمر به د جنګ په چارو کې نظر کولو او عبد الله بن یاسین به د دین په چارو او د شریعت په احکامو کې نظر کولو او زکات او عشر به یې جمع کولو».

مرابطین په همدغه حالت کې د خپل نوي پوځي امیر تر شا د خپل فقیه او عالم عبد الله بن یاسین په امر پاتې شول؛ د خلکو لپاره یې دین راتازه کولو.

بکري ذکر کړي چې په کال (٤٤٦ هـ) کې ابن یاسین په اودغست غزا وکړه (چې نن ورځ د موریتانیا په جنوب کې واقع دی) او د اسلام نه مخکې د ګانا د بادشاه پایتخت و، بکري وایي:» هلته عبد الله بن یاسین د قیروان د خلکو څخه یو سړی وواژه چې د عربو د اولادونو څخه و، هغه په تقوا، صلاح، د قرآن په تلاوت او حج مشهور و، د هغه نوم زباقره و، لیکن عبد الله بن یاسین هغه پدې ګناه وواژه چې د ګانا د مشرک بادشاه د تابعدارۍ او حکم لاندې و» [المسالك والممالك].

په کال (٤٤٧ هـ) کې مرابطین سجلماسه ته ننوتل چې نن د مغرب په جنوب کې دی او له هغه ځایه یې ظلم ختم کړ، سلاوي وایي: «هلته

